


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د کتاب پیژندنه


| | |
|---|---|
| نوم . | سپیڅلې بنځه/ لنډه کیسه |
| لیکوال . | افتخارالله افتخار |
| کمپوز . | ا.ر افتخار |
| پښتی ډیزاین . | ا.ر افتخار |
| ایډیټ. | ا.ر افتخار |
| چاپ کال . | 17/12/2022 |
| چینل. | https://t.me/Aftekharullah_Aftekhar |


په خپل نوم د خپرولو حق هیڅوک نه لرې...

**AR**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## په خیاء تیر له سره پیغلو پښتنو خویندو ته

## چې وروړ يې په ديره، پلاړ يې په جرګه، تره او د تره زوي يې په مجلس کې په لوړو سترګو مباحثي کوي

## ا.ر

:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپیڅلي ښځه که بد کرداره ښځه!

**مه خیرانیږئ ژوند له داسي هندارو ډک دي چې اکثره مونږ ته برعکس شکلونه ښایي دلته د پرښتو په جامه کې شیطانان اوسیږي.**
**زه دا د یو لیکوال مسؤلیت ګڼم چې پرده اوچته کړې د هاغې رازونو نه چې تر اوسه پرې لا ناپاک ګردونه پراته دي او ځنډ ورکړي تر څو ورلاندی پټ مخونه د ټولنې په وګړو وپيژني.**
**او کیسه باید داسي ولیکل شي خلک دا ګمان وکړئ چې دا کیسه ربښتیني ده او یا خقیفت ته ډیره نږدې ده...**
**وبه لولې چې په ډک کور په شته خاوند کې یوه ښځه ځنګه ډاډه ځانته یار ساتلي شي او د خپل هؤس سړولو لپاره له کومه حده اوړي. دلته ماته د پښتو هاغه متل مخ ته ودريږي کوم سره چې مونږ ټول بلد یو**
**( چې ابې وغواړې نو اوګورې له هم تبی اچولي شي) او دا خو ثابته خبره ده خو باید دا هم د ذهن څخه ونه باسې چې د لاس ګوتې یو شان نه دې...**
**دا لنډه کیسه مي د خپلو لنډو کیسو ټولګي کتاب څخه راخیستي ده او تاسي ته یې وړاندې کوم. ممکن غلطیاني ولری نو ځکه خو یې له تاسو ټولو څخه وړاندی ببښنه غواړم او دوهمه خبره دا چې که کومه غلطی مو په کې ولیده د یو ملګر او یا د ورور په خیث راته په ګوته یې کړئ تر په راتلونکې کې تری ډډه وکړم نور مو وخت نه نیسم دا تاسي او دا مو سپيڅلي ښځه لنډه کیسه**

**ستاسي ګوره ورور**

https://t.me/Aftekharullah_Aftekhar

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېیل

**- هې لیوره چغې نه وهم ور هم بند دې دا چې ته راغلي یې ستا زړه به هم.!** یو نیم کال مې د ورور د واده شوې و خو لا پاک ربﷻ د ماشوم په نعمت نه وو نازولې خوشحاله زنده ګې مو لرله پلار مې څو کاله وړاندې د ژوند پور ادا کړې و له ما کشر یو ورور دې یوه مشره خور لرم هغه هم واده شوې وه د ژمې یخی شپې وې واده کړی ورور مې د مزدورۍ له وجې به له مونږ یوه جمعه نیمه مسافر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



سری ماښام به د لمانځه نه ورسته په کوټه ننوتلو ځکه یخ زیات و. وریندار مو له مونږ جلا خپله کوټه کې ځانله شپی کولې یو ماسختن تقریباً د شپی یوولس بجې به وې له خپلې کوټې څخه د ضرورت لپاره بهر په ډیر ارام سره ووتلم چې د چا خوب خراب نه کړم. د کور د دروازی سره مو وړاندی تشناب و د وریندار د کوټې مخې ته په تیریدو مې داسی څه اخساس کړل چې یقین مې نه کیده ما د کوټې دننه دوه کسیز ارام غږ واورید خو زر بیرته خاموش شو! تر ډیره بیا خاموشې وه بیا مې د ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل کیدای شی وهم وي ما بی
ځایه شک وکړه له ضرورته واپس
کوټې ته راغلم خو زړه ته مې چې
څومره ویله دا یې راسره نه منله
چې دا دې کومه ذهني لوبه وي
سهار چې له خوبه بیدار شوم
وریندار مې په لمانځه ولیدله په
ځان مې لعنت وویل چې ما ولې په
یوې پاکې ښځې شک وکه ما تری
د اودس لپاره اوبه وغوښتې په منډه
یې راوړې کله یې چې لوټه زما
مخې ته کیښوده د غاړې ګیډی
ویښته یې مخې ته راولویدل له
وزن نه دروند او یو څه لامده
ښکاریدل! زړه مې بیا شک

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیست خو پریکړه مې وکړه. کور کې مې هیڅوک په ځان شکې نه کړل چې څه کووم! له مور نه مې د وریندار په مخ کې مازیګرمهال د شپې لپاره اجازه واخیسته چې سبا نهه لس بجې به راځمه شپه مې د ملګرو سره ده. لمر خپله وظیفه سرته ورسوله او په ارام له غره ښکته شو. د ګاونډی په دیوال له ماښام ازان نه بعد د کوټې سر ته وختم له کوم ځای څخه چې ماته د وریندار کوټه او د کور انګړ ټول ازاد ښکاریده سخت یخ نیولې وم خو له بلی پلوه د عزت خبره وه ټول اندامونه مې لړزیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بره مې په پټه د ټول کور ننداره
کوله وريندار مې کتغونه ښه په
عادی خالت کې کوټې ته وړل دا
ځل زما په ځان شک شو چې بايد
تادی وکړی ځکه چې په کور کې
يو زه ځوان يم او زه هم نه وم کور
ورته بيخې خالی دې. د تل په څير
هماغسې په عادی خالت کې هر څه
روان و اووه نيمی بجی به وې چې
د کور لويه دروازه يې قلف کړه او
خپلې کوټې ننوته زه نو نور يخ
ليونی کړی وم صبر می هم نه کيده
ځان مې راټول که تر ډيره هيڅ
ونشو ارامه ارامې وه تکل مې وکړ
چې بايد ښکته شم ممکن سهاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې مې يخ ووژنې له خپل ځايه په اوچتيدو شوم چې د دروازی کړس مې واوريده بيا له کوټې راووته د لاس ساعت ته مې وکتل څه د پاسه نهه بجی وی. بيرته ارام راغونډ شوم شاوخوا يې وکتل بيا زمونږ د کوټی خواته لاړه له کړکي يی ننداره وکړه واپس راغله موبايل يې غوږ ته ونيو له ما يې يخنې هيره کړه خيران پاتی شوم ورسته د کور لويی دروازی خواته روانه شوه ور يې خلاص کړ څه می چې ليدل بيخې می يقين نه راتله هاغه کس مې وليده چې زما په مور ډير ګران و د دی کورنۍ سره مو ډيری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښې دوستانه اړيکې لرلې هلک يې
رادننه کړه ور يې زر بيرته قلف
کړ هلک شاوخوا کتل لکه زړه يې
چې نه وې وريندار مې له لاسه
ونيو او سيده يې خپلې کوټې ته کش
کړه ماته ځمکې ځای نه راکوله زر
ډوله فکرونه ذهن ته راتلل يو ځل
مې ويل ورښکته به شم دواړه به يو
ځای هغی دنيا ته ولېږم خو بيا راته
غټ شرم جوړيده چې له پردی
هلک سره يې خپله کوټه کې وژلې
ان دومره فشار راباندی و چې
راځه خپله ځان وژنه وکړه له دې
خالت ليدو نه مرګ غوره دې له
سترګو مې لکه د ماشومانو اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رواني وي چې تاته په دی کور کې کمې د څه دې؟ ولې دی زمونږ عزت پسې راخیستې ده؟ ولې دې راته په لمن داغ جوړ کړه اخیر ولې داسې کوې!... تر هاغه وخته په دې تشویشونو کې وم چې وریندار مې د سهار ازانونو نه مخکې راووته شاوخوا یې نظر واچوه کوټې ته دننه شوه بیا له هلک سره سمه بهر راووته لا زور خو یې دلته راکه چې هلک وتله او دی بیا کلک ونیو او سره خوله په خوله شو خوصله مې د لاسه ورکړی وه خو فکر مې ارام کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ژوندۍ به یې نه پرېږدمه د ور
قلف یې خلاص که بیرته یې پسې
ور بند که، راغله له تنوره یې تودی
اوبه یې کوټې ته دننه کړې او ما
سر کیښود له ملا ازان سره سم مې
د کوټې له سره لاندی له اوچت
دیوال نه ټوپ کړه هیڅ یقین مې
اوس هم نشی چې ما دې له هغی
دیوال نه لاندی ټوپ کړی وی
خالت مې بیخی ښه نه وه
کور مو همدلته د ښار تر څنګ
یعنی ریکشه د ښار چوک ته لس
افغانۍ اخلي، دومره فاصله کی
پراته و. شپه مې په ویښه سبا کړی
وه خپل سر راباندی دروند و د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرې خواته لاړم د تمانچې
غوښتنه مې ترې وکړه هغه هم لکه
زما غوندې شپه يې په ويښه تيره
کړې وه نشه غوندې ښکاريده
خوب ټالۍ ورکولې د نر بچي يو
دوه ونه کړ همداسې يې له بدې
راوويسته ويل واخله، ملګرې ته
مې ويل بيرته راځم هغې راپسې د
خوبه ډک غږونه کول خو ما ترې
ځان فنا کړې و په خپل کور دننه
شوم ور ځکه خلاص وو چې له ما
کوچنې ورور مې د لمانځه لپاره
مسجد ته تله انګړ کې څوک نه
ښکاريده سيده ورېندار کوټې ته
لاړم قسمت ته ګوره کوټه کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیده وران ویجاړ ځایونه یې سمول
په کوم چې یې بیګا د هوس تنده
ماته کړې وه ور مې بیرته د کوټې
ځان پسې کلک بند که وریندار مې
زما په لیدو خیرانه راته ودریده
ویل کامرانه دا ته څه کوی ور دې
ولې بند که ؟
له خولې می ورته ووتل غواړم در
ننږدې شم!
له دې خبرې سره یې چغه له خولی
ویسته ورمنډه مې کړه په خوله مې
ورته لاس کیښود
بیا مې ترې په شوخۍ وپوښتل
- ولې چغې وهې ؟
په غیرتی انداز یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته څنګه د خپل ورور په عزت سترګي پټوي زه خو ستا ورېندار يم که ورور دې خبر شو ژوندی دې نه پرېږدي او زه ورته ضرور وايمه چې ورور دی راسره داسی بد کردار وکړه زه تاته دومره سپکه او رزيله ښکاره شومه ها؟ په ما دې د چا ګمان وکړه؟ ما تر ننه ډېر په عزت ژوند کړې او تا به دې په ورور ژوندې پری نه ږدم ماته خندا راغله د يوې کنچرې له خولې مې داسی درانه الفاظ اوريدل چې ماته تری هم شرم راته خو په دې يې هيڅ تاثير ونه کاوه. خواته يې جوخت شوم نه پوهيدم چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما څه وشو خواص مى ټول بدل شوى و په ارام مې ورته وويل ـ ستا له خولې داسى سپيڅلى لفظونه خوند نه کوى ما دې بيګا ټوله شپه د کوټې له سره ننداره وکړه ځکه چې ابله شپه دربادى شکې شوي ومه. زمونږ ذاهد ته دې ور خلاص کړ بيا دى بند که سهار د ملا ازان نه مخکې دى چوټى که او اوس د غيرت چغې هم وهي؟

زما له کيسې سره خوله خلاصه خيرانه پاتې شوه له ديوال يې ځان جلا کړه زما خواته رانږدى شوه لاس يې راته په اوږه واچوه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غولوونکې انداز يې ويل
ـ هی لیوره چغې نه وهم ور هم بند
دې دا چې ته راغلي يې ستا زړه به
هم...
مخکې خبری ته مې پرينښوده او
تمانچه مې له بدې راوويسته درې
ډزه مې په ګيده کې وويشته په ما
يې د ځان ګمان وکړه! هملته ته
پړمخې ولويده له ډزو سره مې مور
رامنډی کړي چغې يې په انګړ کې
خپری شوې.
زه سمدستی بهر راووتمه زمونږ
کور سره پوسته نږدی وه نور نو
په ځان نه پوهيدمه د بدن غړو مې
کار پريښې و تمانچه می لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغسې لاس کې وه چې پولیسو ونیولم. په مخکمه کې مې ورور وویل دا بې غیرته زما ښځې پسې کوټې ته تللې هغې به ورته انکار کړي وی دې ظالم او بې وجدانه ویشتې ده زما ډیره سپیڅلی ښځه وه ان خپلو ورونو سره یې د حیاء نه ډیري خبري نه کولي نور خو پریږده

ـ نو هلک ته دې هیڅ هم ونه ویل؟
ـ نه ځکه چې هغه نه و ملامت زما په ذهن! کور ته دې راغوښته دا نه ورتله ګنې مجرم خو دې او د وژلو حق یې هم جوړیږی خو زړه مې په وریندار یخ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ او تا دې خپل ورور ته رښتیا ونه ویل؟
ـ ومې ویل همدلته یې یو څو ځپېړې ووهلمه چې په هغې شک کول هم ګناه ده او ته بې غیرته همداسې ښه یې مور مې راباندې هم باور نه کاوه ځکه خو درته وایمه چې دې زندان کې ډېر مجرمین زما او ستا غوندې بې ګناه په کلونو کلونو سزا مخکوم شوي دي

**پای.**

ننګرهار، رودات والسوالۍ، کان

(c) ketabton.com: The Digital Library



https://t.me/Aftekharullah_Aftekhar

په دغه بره چینل کې تاسی ته د افتخارالله افتخار لنډې
کیسي، غزلي، خاطری، د ناول لیکولو زده کړه،
ویډیو لنډ قلبونه، ښه بیتونه، لنډی، ادبی ټوټې،
هایکوګاني او د نورو لیکوالانو ناولونه نشریږی که
مو خوښه وي چینل جواین کړئ او دا لینک او کیسه
د کیسو مینوالو ته ورسوئ

# مینه مننه او درنښت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**